اونیزه مجله :340
WEEKLY BOOKLET:340

تقریباً 19 کاله پخوانے بیان

# د مرګ خوند



شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامی
بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس
عطار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# د مرګ خوند [1]

**دُعائے خلیفۂ امیرِ اهلِسُنَّت:** یا رَبَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رساله ''د مرګ خوند'' اولولي یا واوري، د هغه د قبر او آخرت منزلونه آسان کړې او هغه سره د مور او پلار بے حسابه اوبخښې.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** په ما باندې کثرت سره درودِ پاک لولئ بے شکه ستاسو په ما باندې درودِ پاک لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده.

(جامع صغير، ص: 87، حديث: 1406)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** چا چې د ژوند خوند واخستو هغه به ضرور د مرګ خوند هم څکي، څوک چې دلته راغلے دے هغه به یوه ورځ د دې ځائے نه ضرور رخصتیږي او چا چې د دې دنیا رنګینئ لیدلې وي هغه به ضرور د مرګ منظر هم وِیني. د مرګ په باره کښې وئیلے شي چې ''اَلۡمَوۡتُ بَابٌ كُلُّ نَفۡسٍ دَاخِلُهَا، اَلۡمَوۡتُ قَدَحٌ كُلُّ نَفۡسٍ شَارِبُهَا یعنې مرګ یوه داسې دروازه ده په

---

[1] -- د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د باني امیر اهلِ سنت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه شوي مختلف آډیو بیانونه په لیکلي شکل کښې د ''فیضانِ بیاناتِ عطار'' په نوم د الـمدینةُ الـعلمیه (اسلامک ریسرچ سینټر) د شعبه ''بیاناتِ امیر اهلِسُنَّت'' له خوا د ترمیم او اضافې سره وړاندې کړے شوي دي. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه الکریم! په هغه بیانونو کښې اوس شعبه ''هفته وار رساله مطالعه'' په پینځلسم شعبان 1424ھ مطابق 15 اکتوبر 2005 شوے یو بیان ''د مرګ خوند'' د رسالې په شکل کښې وړاندې کوي.

کومه چې به هر ساه لرونکے تیریږي" مرګ یو داسې جام دے کوم چې به هر ګس ضرور څنبي." واقعي چې حقیقت هُم دا دے چې مرګ یو داسې جام دے چې د دې خوند به هر یو ضرور څَکي، لکه څنګه چې په څلورمه سیپاره، سورۀ آلِ عمران آیت نمبر: 185 کښې **الله** پاک ارشاد فرمائي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِؕ﴾ [مفهوم]ترجمۂ کنزُ الِایمان: **هر ساه لرونکے به د مرګ خوند څکي.** د دې آیت مبارک لاندې په تفسیر صراطُ الجنان کښې دي: د دې آیت نه معلومه شوه چې **الله** پاک په هر ساه لرونکي باندې مرګ مقرر کړے دے او د دې نه به یو ګس هم خلاصے نه مومي او نه به ترینه څوک چرته تښتیدے شي. مرګ د بدن نه د رُوح د جُدا کیدو نوم دے او دا جدائي به ډیره په تکلیف او اَذیت سره وي او د دې تکلیف به په دنیا کښې بنده ته د رسیدونکو ټولو تکلیفونو نه زیات سخت وي. (تفسیر صراط الجنان، پ: 4، آلِ عمران، تحت الآیة: 185، 122/2)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** انسان ته د مرګ په وخت د رسیدونکي تکلیف په باره کښې یو څو واقعات اولولئ او د ځان د پاره یې د عبرت ذریعه جوړه کړئ،

منقول دي چې بني اسرائیلو د چیلنج په طور حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ته اووئیل چې تاسو زمونږ د پاره حضرت سام بن نوح راژوندے کړئ، حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام هغوئي ته اوفرمائیل: تاسو ما د هغوئي د قبر خوا له بوځئ، بیا حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د بني اسرائیلو سره د حضرت سام بن نوح د قبر خوا له تشریف یوړلو او هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام **الله** پاک ته د حضرت سام بن نوح د ژوندي کولو دعا اوکړه نو **الله** پاک هغوئي راژوندي کړل. کله چې هغوئي د خپل قبر نه راووتلو نو د هغوئي د سر ویښته سپین وو، حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ترینه پوښتنه اوکړه: دا بوډا والے [یعني ویښته سپینیدل] خو ستاسو په زمانه کښې نه وو؟ هغوئي عرض اوکړو: اے روحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام ! چې کله تاسو ما ته آواز اوکړو او ما ستاسو آواز واوریدو نو زما ګمان شو چې شاید قیامت قائم شوے دے، د هغې د هیبت نه زما د سر ویښته سپین شول. بیا حضرت عیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام د هغوئي نه د "مرګ" په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوئي اووئیل: د مرګ تریخوالے خو لا تر اوسه پورې زما نه

نۀ دے لرې شوے حالانکه زما د دې دُنيا نه د رخصتيدو د څلورو زرو نه زيات کلونه شوي دي.
(تفسير قرطبي، پ: 3، آلِ عمران، تحت الآية: 49، الجزء: 1128/2,4 ملخصاً)

د دې واقعې نه دا معلومه شوه چې **الله** پاک حضرت عيسیٰ رُوح الله عَلَيهِ السَّلَام ته دا معجزه عطا کړې وه چې هغوئي عَلَيهِ السَّلَام به مړي راژوندي کول. دا هم معلومه شوه چې د قيامت وحشتونه داسې خطرناک دي چې صرف د دې ويرې نه چې هسې نه قيامت قائم شوے وي د حضرت سام بن نوح تور ويښته سپين شول. د دې سره سره دا هم پته اولګيده چې د مرګ خوند دومره تريخ دے چې د وفات نه د څلورو زرو کالو مودې تيريدو نه پس هُم د حضرت سام بن نُوح نه د مرګ تريخوالے لرې شوے نه وو.

## د مرګ نه پس هُم د مرګ ګرمي

زما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم يو ځل ارشاد اوفرمائيلو: د بني اسرائيلو يوه ډله په يوه هديره تيريدله نو هغوئي په خپل مينځ کښې مشوره اوکړه چې ولې نه مونږ دلته دوه رکعته نـمونځ اوکړو او د **الله** پاک نه سوال اوکړو چې زمونږ د پاره يو مړے راژوندے کړي د پاره د دې چې مونږ ته د مرګ حالات اووائي، نو هغوئي نـمونځ اوکړو او بيا يـې سوال اوکړو، د هغوئي دُعا لا جاري وه چې په هغه وخت کښې د هغه قبرونو نه يو داسې ګس د چا د دوارو سترګو ترمينځه چې د سجدې نخښه ښکاريده، هغه د خپل قبر نه سر رابهر کړو او اوئې وئيل: تاسو زما نه څه غواړئ؟ زما د وفات کيدو سل کاله شوي دي خو لا تر اوسه پورې د مرګ ګرمي زما نه نۀ ده لرې شوې، تاسو زما د پاره دُعا اوکړئ چې **الله** پاک ما خپل مخکښيني حالت ته واپس اوګرځوي. (الزهد لامام احمد، ص: 44، حديث: 88 ملخصاً)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! د مرګ ګرمي تر څومره وخته پورې ده چې د وفات نه سل کاله پس هم باقي ده. اوګورئ! که مونږ ته څه تکليف را اورسي نو د هغې اثر په ډيره لږه موده کښې ختم شي خو د مرګ په وخت د رسيدونکو تکليفونو اثر تر سوونو کالو

پورې باقي پاتې وي لهٰذا عقلمندي دا ده چې مونږه مرګ په کثرت سره يادوو او تر څو چې په دنيا کښې يُو د مرګ او د هغې نه پس [ژوند د پاره] تياري اوکړو. مونږه هره ورځ اورو چې فلانکے وفات شو او فلانکے وفات شو خو مونږه څه خاص عبرت نه حاصلوو، هُم دغه شان چې کله مونږ هديرې ته حاضر شو نو بيا هم عِبرت نه حاصلوو حالانکه د هديرې د حاضرئ اصلي مقصد عبرت حاصلول دي، لکه څنګه چې په حديثِ پاک کښې دي: ما تاسو د قبرونو د زريات نه منع کړي وئ، اوس تاسو د قبرونو زيارت کوئ چې هغه د دنيا نه د بے رغبتئ سبب دے او [بنده ته] آخرت وريادوي. (سنن ابن ماجه، 252/2، حديث: 1571) چې مونږ هديرې ته لاړ شو نو د **الله** پاک د ويرې نه زمونږه د سترګو نه اوښکې نه بهيږي خو زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو قبر په خوا کښې دومره ژړلي وو چې د سترګو مبارکو نه بهيدونکو اوښکو باندې يے خاوره لمده شوه،

## په مبارکو اوښکو يې خاوره لمده شوه

حضرت بَرَاء بن عازِب رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي چې مونږ د نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په يوه جنازه کښې شريک وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر په غاړه کښيناستلو او دومره يې اوژړل چې د هغوئي د سترګو مبارکو نه بهيدونکو اوښکو باندې خاوره لمده شوه. بيا يې ارشاد اوفرمائيلو: اے ورونړو! د دې قبر د پاره تياري اوکړئ. (سنن ابن ماجه، 466/4، حديث: 4195)

## په اوښکو به يې ګيره لمده شوه

د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم په حالاتو کښې هُم داسې واقعات ميلاويږي چې کله به هغوئي هديرې ته لاړل نو د **الله** پاک د ويرې د غَلبې له وجهې به يې ډير ډير ژړل، امير المُؤمِنِين حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْه چې به کله د يو قبر خوا ته اودريدو نو دومره به يې ژړل چې په اوښکو به د هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْه ګيره مبارکه لمده شوه. چا عرض

اوکړو: (اے امیرُ المُؤمِنِین!) تاسو چې د جنّت او د دوزخ ذِکر کوئ نو نه ژاړئ او د قبر په خوا کښې ژاړئ؟ هغوئي رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: يقين اوکړئ چې رَسُولُ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي چې قبر د آخرت په منزلونو کښې وړومبے منزل دے که د دې نه نجات حاصل شي نو د دې نه پس منزلونه به د دې نه زيات آسان وي او که د دې نه نجات حاصل نشو نو د دې نه پس منزلونه به د دې نه زيات سخت وي او رَسُولُ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دا هُم فرمائيلي دي چې د قبر نه زيات وحشتناک منظر ما کله هم نه دے ليدلے. (ترمذي، 138/4، حديث: 2315)

## په اوښکو به يې عمامه لمده شوه

مشهور او باکماله مُحَدِّث حضرت يزيد رقّاشي رحمۃُ اللہِ علیہ به د قبرونو خوا له تللو او فرمائيل به يې چې اے د قبر په کنده کښې دفن کيدونکو! او اے په تنهايئ کښې اوسيدونکو! او اے د زمکې دننه حصې سره عادت شوو خلقو! کاش چې زه خبر شم چې زه ستاسو په کومو اعمالو باندې خوشحاله شم؟ او زه په تاسو کښې په کوم يو وررور باندې رَشک اوکړم؟ د دې فرمائيلو نه پس به هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ دومره ژړل چې په اوښکو به يې عمامه لمده شوه [يعنې د عمامې شريفې کومه شمله به يې چې په سينه رازوړنده وه هغه به لمده شوه] او هغوئي چې به کله هُم يو قبر ته کتل نو دومره په زوره به يې ژړل لکه څنګه چې غوئے رمباړې وهي. (احياء العلوم، 238)

## ټوله شپه به يې په هديره کښې ژړل

حضرت عيسىٰ بن عُمر رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: حضرت عَمرو بن عُتبه رحمۃُ اللہِ علیہ به په خپل آس باندې د شپې هديرې ته تللو او هلته به اودريدلو او وئيل به يې: اے قبر والؤ! اَعمال نامې راونغښتلے شوې او اعمال اوچت کړے شول، بيا به يې په خپلو ښپو باندې سر کيښودو او ژړل به يې تر دې چې سحر به شو او واپس به راغے او د سحر په نمونځ کښې به شريک شو.
(حلية اولياء، 173/4، حديث: 5159)

## زمونږه حالت!

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! تاسو اوکتل چې زمونږه اَسلافو به چې کله هديرې ته تشريف يوړلو نو د الله پاک د ويرې نه به يې څومره ژړل خو زمونږه حالت دا دے چې مونږه د جنازو سره په خندا خندا هديرې ته روان يُو او په خندا خندا ترې واپس راځو. يو وخت وو چې مسلمانان به کله د چا د جنازې سره تلل نو خپل مخ به يې په کپړه پټ کړے وو او خپل مرګ به يې يادولو او ژړل به يې، په دې وجه چې څنګه نن دا مړ شوے ګس زمونږه په اوګو باندې هديرې ته روان دے سبا به مونږه هم دغه شان هديرې ته وړلے شو، هغه ټول به دومره غمژن کيدل چې که څوک به د تعزيت [لاس نيوې]د پاره راغلو نو ټول به يې غمژن ليدل او هغه ته به دا پته نه لګيده چې د مړي وارثان څوک دي؟ حضرت امام محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ ارشاد فرمائي: يو وخت وو چې کله به جنازه تلله نو په جنازه کښې به چې دې چا ته کتل نو مخ به يې په کپړه پټ کړے وو او ژړل به يې او که چا نا اشنا ګس به تعزيت [لاس نيوه] کول غوښتل نو هغه ته به دا پته نه لګيده چې هغه د چا ته تعزيت [په مړي پسې دعا] اوکړي؟ (کیمیائے سعادت، 397/1) اوس هُم خلق په جنازو ژاړي خو هر يو نه بلکې مخصوص ګسان ژاړي. مشکله ده که څوک هم د الله پاک د ويرې يا د خپل مرګ يادولو په وجه يا څکه ژاړي چې د مړي به په قبر کښې څه کيږي؟ نن سبا عام طور خلق د مړي په محبت کښې ژاړي. ياد ساتئ! جنازې زمونږ د پاره د خاموشه مُبَلِّغ حيثيت لري. څه چې هغه د خپل حالت سره وائي د هغې ترجماني چا څه ښکلې کړې ده:

جنازہ آگے آگے کہہ رہا ہے اے جہاں والو
مرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنما میں ہوں

## د قبر معامله ډيره نازکه ده

اوګورئ! د قبر معامله ډيره نازکه ده، که مونږ په قبر کښې د راپيښيدونکو معاملو په باره

کښې په صحيح معنو کښې غور او فِکر اوکړو نو زمونږه ټوله مستي به ختمه شي خو مونږه داسې نه کوو. اوګورئ! که يو څو ګسان د ټوپک په زور يو کس اونيسي او بيا هغه د کندې خوا ته اودروي او ورته اووائي: مونږ به نه په تا ډز کوو او نه به درله ښټ ماتوو البته د لږ وخت د پاره به دې دې کندې ته غورځوو او دا به د قبر په شان بندوو. په داسې حالت کښې کيدے شي چې په کنده کښې د بندولو غم د ډز کولو د غم نه زيات وي او هغه به دا سوچ کوي چې پته نه لګي په دې تنګه او تياره کنده کښې به په ما څه تيريږي؟ ياد ساتئ! د قبر معامله د لږ وخت د پاره په کنده کښې د بندولو د معاملې نه ډيره زياته سخته ده. اوګورئ! چې کله څوک وفات شي مړے غسل ورکوونکي او کفن وراغوستونکي وِيني، هغه دا هُم محسوسوي چې اوس به خلق ما په خپلو اوګو اخلي او هديرې ته به مې وړي او هغه ته دا پته هم لګي چې اوس به خلق ”د دې ځائے نه اونيسه او د هغه ځائے نه اونيسه“ نعرې وهي او ما به تيارۀ قبر ته کوزوي خو د دې هر څه پته لګيدو باوجود هغه خبرې نشي کولے. بيا خلق په لرګو يا ګټو باندې قبر بندوي او کله چې آخرئ ګټه يا لرګے کيښودے شي نو په قبر کښې توره تيارۀ جوړه شي، بيا خلق په قبر باندې په احتياط سره خاوره اچوي چې چرته هم څه معمولي سورے پاتې نشي، دغه وخت بعضې خلق په تيز آواز وائي چې دلته خاوره راواچوئ دلته سورے پاتې دے نو هم دغسې آخر خلق په منونو خاوره پرې واچوي او قبر مکمل طور بند کړي او بيا دُعا اوکړي او خپلو خپلو کورونو ته روان شي. آه! مړے دا هر څه ويني، تر دې پورې چې کله خلق هغه په تيارۀ قبر کښې يواځې پريږدي او خپلو کورونو ته روان شي نو هغه د دوئي د ښپو ګشارے هم اوري، په حديثِ پاک کښې دي: ”مړے د دفن کوونکو د [واپس] تللو د پيزار آواز اوري.“ (الزهد لابن المبارک، ص: 41، حديث: 163 ملخصاً) بيا د هغه قبر ته مُنکر نَکِير راشي او د سوالونو او جوابونو سلسله شروع شي. بيا مړي ته د هغه د ښو او بدو اعمالو مطابق جزا او سزا ورکولے شي مثلاً که مړ شوے ګس مَعَاذَ الله! په غلا، شرابو څښلو يا زناکارئ کښې اخته

شوے وي او بغير د توبې نه مړ شوے وي نو د هغه قبر ته دوه ماران راليږلے شي کوم چې به د هغه غوښه راشوکوي او خوري به يـې؛

## دوه ماران به يـې غوښې راشوکوي او خوري به يـې

د حضرت مَسرُوق رحمۃُاللہ علیہ نه روايت دے: څوک چې په غلا يا شرابو څښلو يا زنا کښې اخته شوے وي او [بے توبه] مړ شي نو په هغه باندې دوه ماران مقرر کړے شي کوم چې د هغه غوښې راشوکوي او خوري يـې. (موسوعة لابن ابي الدنيا، 5/476، حديث: 257 ملخصاً) هم دغه شان که مړے خيانت کوونکے وي نو د هغه په قبر کښې به وور بل کړے شي؛

## د څادر نه وور جوړ شوے وو

حضرت اَبُو رافِع رضی اللہ عنہ فرمائي چې يوه ورځ نبي کريم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د مدينے منورې د هديرې "بقيع غرقد" په خوا تيريدلو نو اوئې فرمائيل: اُف، اُف، اُف. هُغه وخت د هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم سره زه يواځې ووم. ما عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ! زما مور پلار ستاسو نه قربان شه! څه خبره ده؟ هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ارشاد اوفرمائيلو: ما دا قبر والا په فلانکۍ قبيله باندې عامِل (يعني د زکوٰة وصولولو د پاره) مقرر کړے وو. هغه وخت ده په يو څادر کښې خيانت کړے وو او اوس زه وينم چې هغه څادر وور جوړ شوے دے او دے سوزوي. (نسائي، ص: 150، حديث: 859 ملخصاً)

غلا کوونکي، شراب څښونکي او په بدکارۍ کښې اخته کيدونکي دې غور اوکړي چې که هغوئي **الله** پاک او د هغه خوږ حبيب صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ناراضه کړل او د توبې نه بغير مړه شول او قبر ته لاړل نو په هغوئي باندې به يو نۀ بلکې دوه ماران مسلط کولے شي کوم چې به د هغوئي غوښه راشوکوي او خوري به يـې او د هغوئي هُغه دوستان کومو چې به د هغوئي نه پيسې اخستې او شرابونه به يـې پرې څښل هغوئي به دوئي په قبر کښې يواځې پريږدي او خپلو کورونو ته به لاړ شي. دغه شان خيانت کوونکي دې سوچ اوکړي که هغوئي بغير د

توبې ويستو نه د دې دنيا نه رخصت شول او بيا د خيانت په وجه د هغوئي په قبرونو کښې وور بَل کړے شو نو د هغوئي به څه کيږي؟ څکه عافيت هُم په دې کښې دے چې د اوس نه توبه اوکړے شي ګنې په خدائے مې دې قَسم وي! د قبر عذاب به څوک هُم برداشت نکړے شي. کيدے شي چې شيطان تاسو ته د ډير عُمر او تر ډيرې مودې پورې د ژوندي پاتې کيدو طمع درکړي او اوس مو د توبه کولو نه منع کړي نو ياد ساتئ! که تاسو د ډير عمر په طمع ژوندي پاتې هُم شئ نو څومره ژوند به اوکړئ؟ زيات نه زيات 60 کاله يا 70 کاله به ژوندي پاتې شئ چې عام طور بنده هُم دومره موده ژوندے وي او بيا مړ شي او تيارۀ قبر ته کوز کړے شي. ياد ساتئ! د 60 کاله يا 70 کاله ژوندي پاتې کيدو هُم څه ګارنټي نشته څکه چې د يوې ورځې ماشوم خو هُم مړ کيږي. که تاسو وايئ چې زمونږه بدن ورزشي دے، مونږ له کراټے هم راځي، مونږه په وَسله چلولو هم پوهيږو لهٰذا د صحت مند کيدو او د مضبوط بدن له وجهې به مونږه لا اوس نۀ مړه کيږو؟ نو ياد ساتئ! ستاسو د ژوند هيڅ محافظ هُم نشته او چې کله مَلَکُ الْمَوت عَلَيۡهِ السَّلَام د رُوح قبض کولو د پاره تشريف راوړي نو څوک هم هغوئي نشي منع کولے، **الله** دې نه کړي که اوس زلزله راشي نو په زرګاؤ بلکې په لکونو خلق به په زمکه کښې دفن شي، [هسې خو هُم] په دُنيا کښې سيلابونه، زلزلې او قدرتي آفتونه راځي د کومو نه چې بنده نه صحت بچ کوي او نه ځواني او نه وسله، او دغسې بنده ناڅاپه مړ شي.

موت ٹھہری آنے والی آئے گی جان ٹھہری جانے والی جائے گی
رُوح رگ رگ سے نکالی جائے گی تجھ پہ اِک دِن خاک ڈالی جائے گی
قبر میں میت اُترنی ہے ضرور جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور
موت آئی پہلواں بھی چل دیئے خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے
قافلے کے قافلے رُخصت ہوئے خاک میں سارے کے سارے مِل گئے
قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار! مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بے شمار
یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وحشت بڑی

میرے اندر تو اکیلا آئے گا ہاں! مگر اعمال لیتا آئے گا
پہلوانوں کو پچھاڑا موت نے کھیل کِتنوں کا بِگاڑا موت نے
ہاتھی جیسے بھی پچھاڑے موت نے کیسے کیسے گھر اُجاڑے موت نے

## افسوس زمونږ سره د مرګ احساس نه وي

افسوس چې زمونږ سره د مرګ احساس قدرې هم نه وي او مونږه صرف په رسمي طور بیان واورو او خواره واره شو. که څناورو ته د مرګ په باره کښې دومره معلوم شي څومره چې مونږ ته معلوم دي نو یو څناور به هم ثورب او تازه نه وي،

د سرورِ ذیشان، د دواړو جهانونو د سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: د مرګ په باره کښې چې تاسو ته څه معلوم دي که څناورو ته معلوم شي نو په تاسو کښې به ثوک ثورب ښاروے اونه خوړے شي. (شعب الایمان، 353/7، حدیث: 10557)

یعني څناور به د مرګ د ویرې نه خوار او کمزوري شي خو انسان د مرګ نه بے ویرې د هاتي د بچي په شان [ثورب] ګرځي، ښه ډیره تیره خوري ښبي، ځان صحت مند جوړوي او په خندا خندا ګناهونه کوي حالانکه ثوک چې په خندا ګناهونه کوي هغه به په ژړا ژړا دوزخ ته داخلیږي، لکه څنګه چې حضرت ابنِ عباس رضی اللہُ عنہما فرمائي: ثوک چې په خندا خندا ګناه کوي هغه به په ژړا ژړا دوزخ ته داخلیږي. (مکاشفة القلوب، ص: 275)

اوس تاسو دا حدیثِ پاک اولوستو چې "د مرګ په باره کښې چې تاسو ته څه معلوم دي که څناورو ته معلوم شي نو په تاسو کښې به ثوک ثورب ښاروے اونه خوړے شي." په دې باره کښې د اوښ یوه واقعه اولولئ او عِبرت ترینه حاصل کړئ،

## د مرګ د ویرې نه د اوښ مستي ختمه شوه

حضرت عیسٰی رُوحُ الله علیہ السّلام یو ځل د اوښانو د رَمې په خوا تیریدلو نو هغوئي علیہ السّلام اولیدل چې په هغې کښې یو اوښ ډیره مستي کوي، کله به یې یو اوښ په سر وهلو او کله به

یـې د چک لګولو د پاره په بَل اوښ ورمنډه کړه او حمله به یـې پرې اوکړه. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د هغه اوښ خوا له ورغلو او د هغه په غوږ کښې یـې اوفرمائیل: اِنَّكَ مَيِّتٌ یعنې تهٔ به مړ کیږې. حضرت عیسٰی رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام وړاندې تشریف یوړلو، بیا د هغه اوښ سره د مرګ دومره فِکر شو چې هغه خوراک ښناک پریښودو، د هغه ټولې مستیانې ختمې شوې او هغه ټَپ ټیپ [یعنې خوار، کمزورے] شو. یو څو ورځې پس چې کله حضرت عیسٰی رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام په هغه ځائے بیا تیریدلو نو اوئې کتل چې هغه اوښ خوار او کمزورے شوے دے او د ټولو اوښانو نه بیل یو اړخ ته ولاړ دے. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د اوښانو څروونکي نه د هغه اوښ د خراب حالت په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغه عرض اوکړو: ما ته صرف دومره پته ده چې د دې اوښ په خوا یو کَس تیریدلو، چا چې د ده په غوږ کښې څه داسې خبره اوکړه چې د هغې نه پس ده خوراک ښناک پریښودو او اوس دا د ټولو اوښانو نه بیل په یو ځائے کښې سست ولاړ وي.
(نزهة المجالس، 85/1 بتغیر قلیل)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل! اوښ کوم چې یو څناور دے چې کله هغه ته د مرګ په باره کښې پته اولګیده نو هغه خوراک ښناک پریښودو او د هغه ټولې مستۍ ختمې شوې حالانکه د هغه د پاره نه د څنکدن سخته شته او نه ورله د قبر عذاب او د دوزخ وحشتونه شته، البته بعضې څناور به دوزخ ته لیږلے شي خو د عذاب خوړلو د پاره نه بلکې [دوزخیانو ته] د عذاب ورکولو د پاره او هغوئي ته به هلته هیڅ تکلیف نه وي. (تفسیر کبیر، پ:30، النباء، تحت الآیة:40، 27/11 ملخصاً) یو خوا خو د مرګ د ویرې نه د څناورو دا حالت دے خو بل خوا زمونږه د انسانانو او د مسلمانانو دا حالت دے چې د دې خبرې د یقین لرلو باوجود په غفلت کښې اخته یو چې مونږ به مړه کیږو، قبر کښې به ښخولے کیږو او د ښو او بدو اعمالو بدله به راکولے کیږي. اګرچه کله نا کله د سنتو ډکو اجتماعاتو کښې د ژړوونکو بیانونو اوریدو سره مونږ ته د خپل مرګ احساس اوشي خو هغه هُم زر ختم شي. بعضې خلق په توجه سره بیان

اوري او خپل ګناهونه يادوي او غمژن کيږي خو د بيان ختميدو نه لږ وخت پس بيرته د معمول مطابق د خپلو دوستانو سره ټوقې ټقالې کوي. داسې خلق عام طور سبا د سحر نـمونځ هُم نه کوي، که په جوش کښې راشي او د سحر نـمونځ اوکړي نو د ماسپښين نـمونځ نه کوي او که د سبانۍ ورځې ټول نـمونځونه اوکړي نو د بَلې ورځې د سحر د نـمونځ د پاره نه پاڅي، داسې هغوئي بيا په غفلت کښې اخته شي.

## قبرونه دننه يو شان نه وي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ چې کله هديرې ته لاړ شو نو مونږ ته ټول قبرونه په ظاهره يو شان ښکاري چې ټول يو شان د خاورو څَلي وي خو ياد ساتئ! دا دننه يو شان نه وي، ځکه چې دننه د چا قبر باغ او د چا په قبر کښې وور وي، څوک په خپل قبر کښې د **الله** پاک د نعمتونو نه خوند اخلي او څوک په عذاب کښې ګرفتار وي، حضرت محمد بن سِماک رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ يو ځل هديره اوليدله او اوئې فرمائيل: اے خلقو! د دې قبرونو په خاموشۍ مه دهوکه کيږئ چې دا چپ چاپ دي، نهٔ! نهٔ! په دې کښې دننه اوسيدونکي ټول يو شان نه دي، په دې کښې بعضې په ډير تکليف کښې دي او بعضې په راحت کښې دي. (اهوال القبور، ص: 226 ملخصاً)
هر عقلمند له پکار دي چې قبر ته د داخليدو نه مخکښې هغه ډير زيات يادوي ، د حضرت سُفيان ثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ ارشاد دے: کوم کَس چې قبر ډير يادوي نو هغه به دا د جنّت د يو باغ په شان بياموي او څوک چې د دې نه غافل شو هغه به دا د دوزخ کنده بياموي.
(احياء العلوم، 238/5)

آه! زمونږه د غافلو به څه کيږي! زمونږ خو د مرګ ذِکر اوريدل هُم خوښ نه دے، تاسو ته به داسې ډير خلق هُم ميلاو شي کوم چې دا وائي چې دعوتِ اِسلامي والا په خپلو بيانونو کښې مرګ، مرګ ډير وائي، نو هغوئي په دې وجه د سنتو نه ډکو اجتماعاتو ته نه راځي، او وائي چې [په ډير مرګ، مرګ اوريدلو] زمونږه موډ خرابيږي. د داسې خلقو د پاره عرض دے چې

زمونږه اَسلافو به هُم په خپلو خطبو کښې خلقو ته مرګ يادولو،

## اے د الله بندګانو! مرګ ياد ساتئ!

اميرُ المُؤمِنِين مولا مشکل کُشا، حضرت عليُّ المُرتضٰى شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ يو ځل څه داسې خطبه اوفرمائيله: اے د الله بندګانو! مرګ ياد ساتئ او د دې د پاره تيارې اوکړئ ځکه چې د دې نه بچ کيدل ممکن نه دي، که تاسو د دې سره مقابله کوئ نو دا به تاسو راګير کړي او که د دې نه تښتيدل غواړئ نو رانيسي به مو. مرګ ستاسو د تندي سره پيوست کړے شوے دے لهٰذا د مرګ د عذاب نه د خلاصې څه ذريعه اولټوئ. د مرګ په لور پرمختګ کوئ چې قبر ستاسو منتظر دے او هغه تاسو زر تر زره ځان ته رابلي. ياد ساتئ! قبر يا خو د جنّت يو باغ دے يا د دوزخ يوه کنده ده. (المستطرف، 107/1 ملخصاً)

ياد ساتئ! که چرې مونږ نن د مرګ ويره اولرو او نـمونځ ګزاره جوړ شو او د ګناهونو نه ډډه اوکړو نو دا زمونږ د پاره ښه ده چې سبا به زمونږ په قبر کښې راحت نصيب شي ګني که نن مونږه د مرګ فِکر اونکړو او په ګناهونو کښې مو ژوند تير کړو نو د مرګ نه پس به زمونږ د پاره په قبر کښې ډيره زياته ويره وي. اوګورئ! د مرګ نه پس ژوند د وړومبي ژوند نه زيات طاقتور وي، د مرګ نه پس د اوريدو او ليدلو عمل [يعني طاقت] هم ډير زيات شي، يعني که د مرګ نه مخکښې مونږ قبر ته کوز شو او اوګورو نو مونږ ته به د قبر نه بهر نظاره نه ښکاري خو د مرګ نه پس د قبر د بنديدو باوجود مړي ته د بهر نظاره ښکاري او کوم خلق چې ځي راځي، هغه ټول ويني او د هغوئي آواز هُم اوري ځکه خو مونږ هديرې ته ځو او مړو ته سلام کوو او دا وايو: ''اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْر، يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ، اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرْ'' يعني اے قبر والؤ! په تاسو باندې دې سلام وي الله دې مونږه او تاسو اوبخښي، تاسو زمونږ نه مخکښې لاړئ او مونږ ستاسو نه پس درتلونکي يو.'' ياد ساتئ! سلام هغوئي ته کولے شي څوک چې اوري او جواب

هُم ورکوي، لکه څنګه چې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحمَۃُاللہِ علَیہ فرمائي: هدیرې ته تلل او د ټولو نه مخکښې سلام کول او بیا دا عرض کول (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ) سُنّت دي، د دې نه پس دې قبرونو والؤ ته ایصالِ ثواب اوکړے شي. د دې نه معلومه شوه چې بهر والا ویني او پیژني یې او د هغوئي خبرې اوري ګنې دوئي ته به سلام جائز نه وے ځکه چې څوک نه اوري یا د سلام جواب نشي ورکولے هغوئي ته سلام کول جائز نه دي، اوګورئ اوده ګس او په نـمونځ ولاړ ګس ته سلام نشي کولے. (مراٰۃالمناجیح،524/2) [په حدیث شریف کښې دي چې] قبرونو والا زمونږه سلام اوري هُم او د هغې جواب هُم راکوي. (شعب الایمان،17/7،حدیث:9296ملخصاً) یاد ساتئ! صرف مسلمانان نۀ بلکې کافران هُم د مرګ نه پس اوري او ویني [لکه څنګه چې نبي کریم صَلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم په جنګ بدر کښې قتل کړے شوو مړو کُفّارو سره خبرې اوکړې نو صحابۀ کرامو رضی اللہ عنھم عرض اوکړو چې: یا رسولَ اللّٰه دوئي به څنګه ستاسو خبره واوري چې دوئي خو مړۀ دي نو نبي کریم صَلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: په هُغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قبضۀ قدرت کښې چې زما ځان دے، زۀ چې دوئي ته څه وایم هغه تاسو د دوئي نه زیات نه اورئ (صحیح مسلم صفة الجنة77، (2874)،(7090)]. او د عامو مړو په مقابله کښې بزرګانِ دِین رَحمَۃُاللہِ علَیہم په خپلو قبرونو کښې د ډیر لرې نه اوري او ویني مثلاً که مونږ د دې ځائے نه د بغداد والا مُرشد، حُضُور غوثِ پاک رَحمَۃُاللہِ علَیہ ته آواز اوکړو نو هغوئي به زمونږه آواز واوري ځکه چې هغوئي د **اللّٰه** پاک د وَلیانو سردار دے. اوګورئ! اوس ټیلي کمیونیکشن دومره مضبوط شوے دے چې مونږ د سمندر نه پورې خپل دوست سره خبرې اترې کولے شو او هغه زمونږ آواز اوري حالانکه په مینځ کښې تارونه وغیره نه وي نو چې سائنسي کنکشن دومره طاقتور دے نو د روحاني کنکشن به څه حال وي!

د مرګ نه پس د ټولو د اوریدو او لیدو طاقت زیاتیږي او مړے خپل قبر ته

راتلونکي ويني هم او د هغوئي آواز هُم اوري. اوګورئ! که مونږ له په قبر کښې نه عذاب راکړے شي او نه زمونږ قبر ته ماران او لړمانان راشي صرف مونږ په قبر کښې بند کړے شو نو د قيامت قائميدو پورې په زرګاؤ کاله موده به مونږه په تيارۀ قبر کښې خنګه تيروو! مونږ به په قبر کښې نه د چا دوست خوا له تلے شو او نه به څوک ځان ته رابللے شو، نه به زمونږه مور راتلے شي او نه به زمونږ پلار راتلے شي، که پلار مو راشي هُم نو د دُعا د پاره به راشي او اخوا ديخوا قبرونو ته به اوګوري او واپس به لاړ شي او مونږه به په خپل قبر کښې ارماني پاتې شو. لږ غور خو اوکړئ! که مونږه په يوه عالي شانه بنګله کښې قيد کړے شو او هلته مونږ ته د ژوند د ضرورت هر څيز راکړے شي، مثلاً لائټونه، پکي، ايئر کنډيشن کمره، نرم نرم بالښتونه، د خوراک څښاک څيزونه وغيره ټول سهولتونه موجود وي خو په دغه بنګله کښې مونږه يواځې يو او زمونږ خوا له د خلقو په تګ راتګ بنديز وي نو يقين اوکړئ! مونږ به په دې کښې يو دوه يا درې ورځې ايسار شو بلکې په مونږ کښې خو به بعضې داسې هُم وي څوک چې به يوه ورځ هُم يواځې اوسيدل برداشت نکړے شي. اوګورئ! چې په داسې سهولتونو والا بنګله کښې مونږه يواځې د يوې ورځې تيرولو د پاره تيار نه يو نو بيا په قبر کښې په سوونو کاله يواځې خنګه پاتې کيدے شو! ياد ساتئ! نن مونږه د دُنيا په رنګينو کښې انښتي يو او قبر مو هير کړے دے خو وئيلے شي چې قبر روزانه پينځه ځله آواز کوي: اے انسانه! تۀ زما په شا باندې ګرځې خو زما خيټه ستا ځائے دے. اے انسانه! تۀ زما په شا خاندې ډير زر به ما ته دننه راشې او ژاړې به. اے انسانه! تۀ په ما باندې حرام خورې خو ډير زر به زما په خيټه کښې تا چينجي خوري. اے انسانه! تۀ زما په شا باندې خوشحالۍ کوې ډير زر به تۀ په ما کښې غمژن يې. (تنبيه الغافلين، ص:23 ملخصاً)

په خدائے مې دې قسم وي! د دې قبر په آواز کښې ډير زيات عبرت دے، اے کاش

چې مونږ ته عبرت نصيب شي او د دې نه مخکښې چې شور جوړ شي چې فلانکے وفات شو، زر زر غسل ورکوونکي راوبلئ، زر زر کفن راوړئ او زر زر د قبر کنستو انتظام اوکړئ. بيا غسل راکوونکي تخته راوړي، مونږ له غسل راکولے کيږي، کفن راته اغوستلے کيږي، زمونږ د پاره د قبر د کنستو انتظام کيږي او بيا مونږه تيارۀ قبر ته کوزولے کيږو نو د دې نه مخکښې د مرګ ياد وړاندې ساتئ او زر زر د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه اوکړئ.

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی        قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

## د مرګ د ياد ساتلو طريقې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د مرګ يادولو يو څو طريقې وړاندې کيږي، په غور سره يې اولولئ او د ځان د پاره د مرګ يادولو ذريعه جوړه کړئ: ﴿1﴾ په جنازو کښې شرکت کوئ ﴿2﴾ هديرې ته د تللو عادت جوړ کړئ ﴿3﴾ د مرګ په موضوع باندې کيدونکي بيانونه اورئ ﴿4﴾ عبرتناک واقعات لولئ ﴿5﴾ د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي په مَدَني قافلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ، په مَدَني قافلو کښې د مرګ د تيارئ په باره کښې د وعظ او نصيحت سلسله هُم وي نو داسې به تاسو ته مرګ ياد وي او چې کله درته مرګ ياد وي نو ستاسو به د ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن هُم جوړيږي چې په حديثِ پاک کښې دي: ”كَفٰى بِالْمَوْتِ وَاعِظاً يعنې مرګ د نصيحت د پاره کافي دے.“ (شعب الايمان، 7/353، حديث:10556) لهٰذا هره مياشت کم نه کم درې ورځې د سنتو د تربيت د پاره په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو نيت اوکړئ، د خپلو نـمونځونو د اهتمام ذهن هُم جوړ کړئ او رښتونے نيت اوکړئ چې د نن نه پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زمونږ نه يو نـمونځ هُم نه قضا کيږي، زمونږ نه به د رَمَضَانُ الْمُبَارَک يوه روژه هم نه قضا کيږي، مونږ به د فلمونو ډرامو کتلو او د سازونو او سندور

نه ځان ساتو، مونږ به مور پلار نه تنګوو، د مسلمانانو چغلياني به نه کوو، د مسلمانانو د غيبتونو، تهمتونو او تورونو لګولو نه به ځان ساتو، د مسلمانانو عزت ته به لاس نه اچوو او د هغوئي عيبونه به پټوو. دا هُم نيت اوکړئ چې مونږ به د دعوتِ اِسلامي په هفته وارو د سُنتو نه ډکو اجتماعاتو کښې په پابندئ سره شرکت کوو.

**الله** پاک دې مونږ ته د ښو ډيرو نيکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د مرګ نه مخکښې د قبر او حشر د تيارئ توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخ طريقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنّت الحاج ابو اُسَيد عُبَيد رضا مَدَني مد ظلّه العالی له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خوېندې دا رساله لولي يا اوري او د اميرِ اهلِ سُنّت او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنّت د دعاګانو حقدار جوړيږي. دا رساله په آډيو کتبې د دعوت اسلامي د ويب سائټ

www.Dawareislami.net يا د Read and listen Islamic

book ايپلي کيشن نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نِيّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-606-1
01082465

فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، پراني سبزي منڈي کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net